FEFA

د افغانستان د آزاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد

بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان

Free&Fair Election Foundation of Afghanistan

# د۱۳۸۹ کال دولسی جرگي دټاکنو دڅارني څلورم راپور

## دټاکنو دمبارزي دوره.

**دسرلړمطالب:**


- سریزه – مخ ۲
- امنیتي وضعیت – مخ ۳
  - ګواښونه – مخ ۴
  - تاوتریخوالي – مخ ۵
- بی امنیتي او دښځینه نوماندانو مبارزه – مخ ۶
- ټاکنیزي سرغړوني– مخ ۶
- پایلي – مخ ۷
- اړیکي
  - دټاکنیزو ګواښونواوتاوتریخوالو کچه .


**سریزه:**

د۱۳۸۹ کال دولسی جرګي دټاکنومبارزه د۱۳۸۴کال دولسی جرګی په نسبت زیاته خطرناکه وه، او تقریبا۲۵۰۰ تنو نوماندانو پدي ټاکنوکي یو دبل سره په سالي وو، او دتیرو ټاکنو په پرتله د ښځینه او ځوانانو نوماندانوپه شمیرکي زیاتوالي راغلي دی او په همدی ډول ټولي ارزوني ښايي چه دتیروټاکنو په پرتله زیاتره نوماندان درایو ورکونکو سره داړیکو په ارزښت ښه پوهیدلي دي،او همدارنګه سږکال مطبوعاتو هم تیزی او زیات مهارت سره دټاکنوپیښني خپرولي اوداټول په ریښتیا هغه مثبت بدلونونه دی چه پدی ټاکنوکي ترسترګوشوی دی اوداسی نه چي په نورو ځایونوکي دموجوده کمزوریو له امله دغه مثبتی کړني له مینځه ولاړي شي.

په خواشیني سره په ټاکنوکي تاوتریخوالو او ګواښونو په ټاکنو باندي سوری کړي وواوګډوډی غوښتونکونیغ په نیغه په عامو ولسی وګړو او په هغه ولایتونوکي حملی ترسره کړي چی پخوا پکي امینت ټینګ وو.نوماندان او دهغوي دټاکنیزي مبارزي استازی له ګواښونو ،تښتولو او دوژلوسره مخ شول،ګډوډي غوښتونکو دشپي لخوا دلیکنو او اعلامیو دلاری په ولایاتواو کلوکي خلک وویرول که هرڅوک دټاکنو په پروسه کي ګډون وکړي له سخت عکس العمل سره به مخ شي او اخطاریی ورکړل چی دټاکنو په ورځ به ددوی حملي زیاتیږي.

دهغه زورواکو لخوا چی غوښتل یي خپل ځان اویا خپل خپلوان دراتلونکي ولسی جرګی چوکي ته ورسوي،تاوتریخوالي اوګواښونه ترسره کیږي،چی دغه نوماندان زیاتره له غیری قانوني وسلوالوډلو سره تړاو لري اودوسلوالو افرادو څخه دسیالو نوماندانو دټاکنو دمبارزي په مخ نیوی کي ګټه اخیسته،

په ټیروټاکنو کي سرغړونو دنه ځیرنو اوناکامیوزورواکو اوسرغړونکو ته داپیغام ورکړل چی دوی کولی شی له سزاځخه په امن کي شی او له بښنې ځخه ګټه اخیسته.

ددی برسیره امنیتی ځواکونه دنوماندانو دامنیت دټینګښت په لارکي دیو میکانیزم په جوړولوکي پاتي راغلي دي،او په یوشمیرمحلونوکي یي دنوماندانو لپاره په ځینوقضایاوکي دخطرشتون ردکړی دي،زیات هغه کسان چه په دی ټاکنو کي وژل شوی دي یوه اونۍ دمخه ورته ګواښ شوي او بیا وژل شوی دي.

په ټاکنوکي ښکیلو موسسات په ټاکنوکي دتاوتریخوالي په اړه لړی ځرګنده وني اوخبری کړي دي، دفیفا ځارونکو له ټول هیواد ځخه ددی راپور ورکړي چی دولتی کارکونکي په نا قانونه توګه دنوماندانو ملاتړی کوي او یو شمیرنوماندانو له دولتی امکاناتوځخه ګټه اخلي او امنیتی ځواکونه دځانګړو نوماندانونه دنورونوماندانو ته د تاوان په منظور ورځخه ملاتړکوي،په ځینوقضایاو کي زیاتره سرغړوني دټاکنودشکایاتو کمیسیون ته بشپړځرګندی وی، ځارونکو په ولایتونوکي زیات راپورنه دټاکنو دشکایاتو کمیسیون ته رسولي مګردغه کمیسیون په ډیرلږشمیرسرغړونکونوماندانو سره قانونی کړنی ترسره کړي او په زیات شمیرکي هغه راپورونه چه دټاکنو دمبارزی پرمهال دویته ورکړل شوی وو تعقیب یي نه کړل.

دپردی ترشاه دنړیوالي ټولني دغړو کمه توجه ددی لامل شوی چی په ټاکنوکي نړیوال معیارونه ،دقانون حاکمیت او تطبیق په مناسبه توګه ندی رعایت شوی.

نړیوالي ټولني اوروپای اتحادیی *OSCE* دنړیوالو ځارونکو درالیږلو ځخه انکاروکړه او دځارني مسوولیت یی افغانی ټولني او هغه نړیوالو ټولنو ته وسپارته چه ددیموکراسی سره مرسته کوي.

فیفا په ټول هیواد کي ترټولو ستر ځارونکي بنسټ دی او په ټول افغانستان کي د۶۰ تنو ولایتي همغږی کوونکو په دلاری یي دټاکنو دبهیر دځارني پروګرام مخ په وړاندی وړی دي، دټولو ولایتونو ځخه ځارونکو د امنیت دوضعیت او دټاکنو له سرغړونوځخه منظم اوونیزراپورونه ورکړي دخپل دغه راپورونه یی په ولایتونوکي دټاکنو دخپلواک کمیسیون او دشکایاتو دکمیسیون سره دمعلوماتو لپاره یوځایی کړی دي او ددی ترڅنګ یی په ولایتونوکي دنوماندانو،رایی ورکونکو،مبارزه کونکواو دځارونکو سرچینوسره مرکي په پوره ازادی ترسره کولي.

بی امنیتي نه یواځي داچي پرنوماندانو بدی اغیزی درلودلی او هغوی نه شوکولای چه په ازاده توګه ټاکنیزه مبارزه ترسره کړی بلکي دفیفا په ځارونکو یي هم منفی اغیزی درلودی اوددغه بنسټ ځارونکو ونه شوکړای چه دخطرلرونکو ولایتونواوسیمو ځخه اړین معلومات راټول کړي خوبیاهم سره له دی دفیفا ځارونکو دټاکنو دمبارزی پرمهال په ټولو ولایتونوکي شتون درلوده، د اداری مرکزونولری والي هم دځارني کارله ننګونو سره مخ کړی وو.

په دقت سره ددغه دلیل پربنسټ فیفا په ټاکنو کی دتاوتریخوالي راپورونه ورکړیدي اوسل په سلوکي ددغه ولایتونو دامنیت دوضعیت ځرګندونه نه کوي دبیلګي په توګه: دلوګرپه ولایت کي دتاوتریخوالي زیات راپورونه ورکړل شوی چه امنیتی وضعیت یا بهتراو لږترلږه بدل دی، هغه ولایتونه او سیمي چی تل نا امنه دی دټاکنومبارزه پکی کم رنګه وه لکه زابل او لوګراوهمدارنګه په دغه ډول سیموکي ټوپک لرونکی لږچانس درلوده چی دټاکنو په پروسه کي پرونده لرونکو وګړو بریدونه ترسره کړي.

همدارنګه په یو ولایت کي دتاوتریخوالي دراپورونو ورکول پدی معنی نه دی چي پدغه ولایت کي دټاکنو دسرغړونو او جعل کاریو کچه دی لوړه وی.

په افغانستان دی دټاکنو دڅارپه برخه کي موجوده ستونزی په پام کي نيولوسره دا راپور د ۱۵جولای څخه تر۲۵اګست پوری په ټول هيواد کي دټاکنو دترسره کيدو دمخه وضعيت په ګوته کوي، او بايد دلازياتو څيړنودپاره دپيل دټکي په توګه په دی برخه کي دټاکنو اړونده ارګانونه ،امنيتی ځواکونه اونړيواله ټولنه په پام کی ونيول شي.

**مثبت بدلونونه:**

که څه هم ۱۳۸۹کال دولسی جرګی ټاکني له جدی ننګونو اوخطرونو سره مخ وي خوبياهم په افغانستان کي په ټاکنوکي دسياست کولوپه برخه کي زيات ګټوربدلونونه ترسترګوکيږي.

دنوماندانو دنيمګړتياو ليست يو له دغه مواردو څخه وو،په دغه ليست کی دافغانستان دټولو برخوافراد ښځينه او نارينه شامل وو چی يودبل سره دنظرياتو،قوميت، سيمه ايز،اقتصادی او ټولنيز ميلان انعکاس ورکولو.

دحيرانتيا ځای نه دی چی دټاکنيزی مبارزی طرزالعمل توپيرلرونکي وو او په زيات شمير کي نووځوانو نوماندانو په رايي ورکونکو باندی داغيزی او متاثرکيدو په منظور له نوولارو اوتکتيکونوڅخه کاراخيسته، هغه نوماندان چی دتيرو ۵کلونو په پرتله يي په شميرکي زياتوالي راغلی دي رايي ورکونکو ته درسيدو په موخه يي دموبايل له تکنالوژی اوورته نورو لاروڅخه ګټه اخيستي ده

**بی امنيتي:**

دسړني کال دټاکنومبارزی په غالب ډول په ځانګړی توګه دجنوب اوجنوب شرق او په ځينو شمالی ولايتونوکي په نا امنه فضاکي ترسره شوی. دټاکنو پرتياريو اوهغه کسانو چی دټاکنو په پروسه کی يي ونډه درلوده پرضد يي تاوتريخوالي داوړی په مياشتوکي دوام درلوده. دفيفا څارونکو د۱۵جولای څخه تر۲۵اګست پوری دټاکنو دنا امنيوپه اړه ۲۵۷راپورونه ورکړی دي.

**ګواښونه:**

نوماندان او دټاکنو په پروسه کي کارکونکی او همدارنګه رايي ورکونکي په مسلسله توګه دطالبانواونورو ګډوډي غوښتونکو دګواښونو کتونکي وود۱۵جولای څخه تر۲۵اګست پوری ۱۹۶ دګواښونود پيښيو راپورونه ورکړل شوی دي چه له دغی جملي څخه په ۱۲۸ مواردوکی په سلوکی ۶۵نوماندانو ته متوجه او په سلوکی ۴۷ مبارزه کونکواو په سلوکی ۲۴رايي ورکوونکو ته متوجه وو او په ۱۱مواردوکي عاموخلکوته په سلوکی ۶او دټاکنو په پروسه کي کارکوونکو ته په سلوکی ۱۰ او څارونکو ته په سلوکي ۵ متوجه وو.

ګواښونو په بيلا بيلو ډولونو تبارزکولو،په پراخه پيمانه دتليفون دلاری نوماندانو ته ګواښ کيده پداسی حال کي چی دشپی ليکونه (شب نامی) عامو ملکی خلکواو دټاکنو په پروسه کي کارکونکوته متوجه وي.

طالبان او ګډوډی غوښتونکي دګواښونو په کولو کي زيات فعال وو او په نا امنه ولايتونوکي په نه ستړی کيدونکي توګه يي خلک په ټاکنو کي له برخي اخيستني څخه منع کول اوهغه کسانو چی دټاکنو په پروسه کي يي فعاليت درلودلو هغوی ته يي ګواښونه کول.

داوړی په موسم کي دمخالفو وسلوالو لخوا دګواښونو دخطونو بهیرلکه د سیلاب  دلوګرټول ولایت په سراخیستي وویډغه خطونوکي په څرګنده توګه لیکل شوی وو چه خلک باید دټاکنو په پروسه کي له ګډون څخه ډډه وکړي او ټاکنیز مبارزه کوونکی اودهغوی ملاتړی به ووژل شي.

دغزنی په ولایت کي لړترلړه دښارپه ۷ ناحیوکي او په یوشمیرنورووالایتونوکي طالبانودشپی لخوا دلیکونو په توسط خلکو ته ګواښ کړي که هرڅوک رایی ورکړي ګوته به یی غوڅه کړي. صرف د۱۴جولای څخه تر۲۱جولای پوری دښارپه ۵ناحیوکي وموندل شوي،په لری پرتو کلیوالوسیموکي دنوماندانو په کاروانونوسره ګواښونه او حملی یوځای وي.

دافغانستان یو امن لرونکي ولایت ننګرهار دټاکنو دتاوتریخوالي سره مخ شو او اوړی په موسم کي دټاکنو دمبارزی پرمهال دطالبانو دزیات فعالیت شاهد وو، دشپي لیکونونوماندان په وژلو سره ګواښول،نوماندانو ته یی ددی اجازت نه ورکولو چه خپل تبلغاتي پوسترونه نصب کړي او عامو خلکوته یی ددی وینا کوله چی په ټاکنوکي ګډون ونه کړي ددغه ډول ګواښونو راپور دجلال اباد دښاردناحیو په شمول په کلیوالو سیموکي ورکړل شوی دي.

او همدارنګه هغه زورواکوچی دځانګړو نوماندانوملاتړیې کولو دټاکنو دمبارزی پرمهال یی دټاکنو له قانون څخه سرغړوني ترسره کړی دي او په هغه سیموکي چی ددوی واک اوکنترول دي خپلو افرادو ته ددی دقومنده ورکړی چی سیالونوماندانوته نیغ په نیغه ګواښ وکړی او هغوی په مرګ وویره وی اوپه دی اړه یې له ګواښونوڅخه ډک لیکونه ورواستولی دي.

دغورپه ولایت کي دوه تنه چی دغیری قانونی وسلوال ګروپونه لري دخپلو نوماندانو څخه یې حمایت کولو اونورنوماندانوته یې ګواښ وکړاو دهغوی انتخاباتی مبارزه یې محدوده کړه.

دفراه په ولایت کي یوتن زورواکي دسیمي خلکوته اخطاروکړه که هرڅوک دده دخوښي نوماندته رایه ورنه کړی هغه به تعقیب کړی اودهغوی په موټرو باندی به په سرکونوکي حملی وکړي.

دکابل په ولایت کي هغه زور واکو چی غوښتل یې په ولسی جرګه کي چوکی لاس ته راوړي خپل سیال نوماندانوته ګواښونه  کوي او تکلیف هم ورسوي،یوتن پخواني سترقومندان چی اوس دولسی جرګی غړی دي  دپغمان په ولسوالی کي دتلیفون په توسط خپلو سیالو نوماندانو ته ګواښونه ګړی اودهغوی دټاکنیزی مبارزی دمحفلونودایرول یې ګډوډ او مخنیوی یې هم کړی  دي دبیلګي په توګه ددغه نوماندانوساتونکو دسیال نوماند په یوتن مبارزه کوونکي دویرولوپه خاطر هوایی ډزوکړي دراپورونو پراساس یوتن پخوانی مشهورټوپک سالارهرڅوک چی دده په اړونده ناحیه کي درایی ورکوونکو سره لیده کتنه وکړي دده دسلوالو پلویانو لخوا به ورته ګواښ کیده.

**تاوتریخوالي:**

دټاکنوپه پروسه کي دټاکنیزی مبارزی په بهیرکي په ټول هیوادکي دګواښ اوتاوتریخوالي پیښوشتون درلوده.

دافغانستان دآزاد اوعادلانه ټاکنوبنسټ (فیفا) څارونکو په ۴۹مواردوکي په ټاکنو کي دهغه ګواښونو راپورورکړي چی نبنه یې نوماندان اویا رایې ورکوونکي وواوهمدارنګه په ۱۲مواردوکي رایی ورکونکو اودښاریانو

خبرورکړي دي،زیاتره دګواښونوپیښي دګډوډي غوښتونکواو دهغه کسانو لخوا پلان شوی چه دزورواکو سره تړاولري .

هغه اوسیدونکي چی په ټاکنوکي یي ونډه درلوده دګواښ او تاوتریخوالي دپیښوسره مخ شوی دي .

لوګر دهغه ولایتونو دجملي څخه دی چي دټاکنوپه پروسه کي دګډون له کبله پکي ۶تنه ووژل شول چی ۴ تنه یی دټاکنومبارزه کوونکي وو.او همدارنګه ګډوډي غوښتونکو دیونوماند کورته اورواچوه او دوه ماشومان چی دټاکنوپوسترونه یی نصبول وتښتول او بیا سخت وزورول شول اودیونوماند تره یی هم وتښتوه.

کله چی داګست په میاشت کي دیو تن ښځینه نوماندی لپاره مبارزه کونکي ووژل شودلوګرپه ولایت کي طالبانو لخوا دشپی په خطونوکي خلکوته ګواښ وکړه که هرڅوک دټاکنو په پروسه کي برخه واخلي پدغسی سرنویشت به اخته شي.

دغزنی په ولایت کي یوتن نوماند نجیب الله ګلستاني چی دځواونی وړاندي ورته ګواښ شوی وو داګست په میاشت کي دطالبانووتښتوه اوبیایی ورته سرغوڅ کړه او دده دمړيني څخه وروسته دعامو خلکو ګواښول پیل شول.

دټاکنو دمبارزی استازی فیفا ته دراپورپه ورکول سترې شول. ګډوډي غوښتونکونیغ په نیغه په مختلفو ډولونوپردغه استازو حملی ترسره کولي او په نوماندانو باندی دبریدونو له کبله زیات شمیرکي دټاکنومبارزه کوونکي زخمیان شوی دي، دبیلګي په توګه دخوست په ولایت کي په یوتن نوماند سعیدالله سعید باندی بمی برید ترسره شوچی په نتیجه کی یې نوماند ووژل شواو له شلو تنو څخه زیات ښاریانوپه شمول دټاکنودمبارزی کار کونکی ټپیان شول.

دمرګوني تاوتریخوالي یوه پیښه دهرات په ولایت کي دیوی تني ښځینه نوماندی فوزیه ګیلانی دمبارزی په ګروپ باندی دکمپاین پرمهال په هغه سیمه کي رامینځ ته شوه چی دطالبانو نفوذېکي زیات وو ۱۰تنه مبارزه کوونکي چی دسفرپه حال کي وو دسلوالو طالبانو لخوا وتښتول شول متاسفانه چه ۵تنه یې ووژل او پاتی نوری پریښودل او همدارنګه دفاریاب،تخاراو لوګرپه ولایتونوکي هم دټاکنو مبارزه کوونکي وژل شوی دي.

دنوماندانو او کمپاین کوونکو لپاره دسفرپرمهال زیات خطرات لیدل کیده ، دفیفا څارونکو دوژني ،تښتوني،غیری قانونی توقیف او پرنوماندانو او دهغوی پراستازو دسفرپرمهال په زیاتو مواردو کي دبریدونودترسره کیدو راپورونه ورکړي دي. دهیواد په شمال او غرب ولایتونو کي ګډوډي غوښتونکو غیری قانونی پوستي جوړی کړی وی او دکمپاین په موټرو او دټاکنو دمبارزه کونکویي دبریدونو پلانونه طرح کول.

دفیفا څارونکی د۱۵جولای څخه تر۲۵اګست پوری دټاکنو دپروسی د کارکونکو پرضد دتاوتریخوالي راپورونه ورکړي دي، ددی راپورپراساس دسیپټمبردمیاشتي په لومړي اونۍ کي دټاکنو دپروسی په بهیرکي دټاکنودخپلواک کمیسیون په کارکونکو ۴ بریدونه ترسره شوی دي،دمطبوعاتو دوینا ترمخي دسیپټمبرپه ۲ نیټه دلغمان په ولایت کي دټاکنو دخپلواک کمیسیون ۲۸ کارکونکی دوسلوالو طالبانو لخوا وتښتول شول اوله وهلوټکولو برسیر۲۴ساعته وروسته پدی شرط پریښودل شول چی په راتلونکي کي به ددولت سره مرسته اوکارنه کوي، دسیپټمبرپه ۱۶ نیټه دبلخ په ولایت کي دټاکنو دخپلواک کمیسیون ۲ کارکونکي ووژل شول. په یوشمیر ولایتونو کي دټاکنودخپلواک کمیسیون کارکونکی دوسلوالوطالبانو لخوا تښتول شوی او اوس هم دهغوی سره په بندیان او لاس تړلی پراته دي.

**بی امنیتی او دښځینه نوماندانو ټاکنیزه مبارزه:**

سره له دی چی نا امنیو ټولنیز،اقتصادي او سیاسی فعالیتونه له ستونزو سره مخ کړي، خو بیاهم افغانی ښځي دسیاسی څوکیو لاس ته راوړلو کي هڅه اوکوښښ کوي،که څه هم دهیواد په پلازمینه کي دښځوټاکنیزه مبارزه رنګینه ترسترګوکیده خو دجنوب او جنوب شرق په سیموکي بیا کم رنګه وه اوپه دغه سیمو کي دګوتو په شمیر دټاکنیزی مبارزی ناستي چی یوشمیرقومی مشرانو او رایی ورکونکو پکی ګډون درلوده په شخصی کورونو کي په پټه ترسره شوی دي.

په ټول هیواد کي ښځینه نوماندانی دګډوډی غوښتونکو،سیالونوماندانواو په سیمه کي دزورواکو لخوا له تکلیف او ګواښ سره مخ وي، دفیفا دڅارونکو په وینا ښځینه نوماندانی او دهغوي دټاکنیزی مبارزي استازی به دنامعلومه تلیفونونو په واسطه به هغوی ته ګواښونه کیدل .

سره له دی حقیقته افغانی ښځي په ولسی جرګه کي یو په څلور برخه لري،په عمومی توګه دسړیو په پرتله دښځینه نوماندانو ټاکنیزه مبارزه محتاطه وي خو بیاهم دښځینه نوماندانو ۶تنه کمپاین کونکي ووژل شول.

موجوده راپورونه داپه ګوته کوي چی هرکله ښځینه نوماندانو دساتني اوامنیت په منظور له پولیسو تقاضاکړي په زیاتی بی رغبتي سره یې دهغوی حمایت کړي او یوشمیرنوری نوماندانی بیا له دی سرټکوي چی دګواښونو اوستونزو باوجود هم پولیسو ددوی دساتنی او امنیت په برخه کی مرسته نده کړي.

ښځینه نوماندانی د مذهبی مشرانو او دهغه نوماندانو چی ددوی سره په سیالي کي وودسختو اوترخو الفاظوتربریدلاندی وي . یواځي دبدخشان په ولایت کي په ۹مواردو کي دمذهبی مشرانو لخوا ښځینه نوماندانی په فحشا او بی دینی تورني شوی او خلک دیته تشویق شوی چی دوی ته رایه ورنه کړي،دفیفا دراپورترمخه یوی تني ښځینه نوماندي دفیفا څارونکي ته ویلي دي چی زیاترملایانودپیسو په بدل کي دنارینه نوماندانو په ګټه تبلیغ کولو او خلک یی دیته هڅول چی نارینه نوماندانو ته رایه ورکړي.

**ټاکنیزی سرغړونی:**

دفیفا څارونکو دټاکنو دمبارزی پرمهال دټاکنو دقانون څخه دنوماندانو دسرغړوني راپورونه ورکړي دي.دجولای له نیمای څخه داګست دمیاشتي تروروستي نیټی پوری دفیفا څارونکو ۵۸۳ مواردو کي دټاکنو دقانون څخه سرغړونی تسلیم کړی دي،چی له دغی جملي څخه په ۳۱۰ مواردوکي ددولت کارکونکوپه نا قانونه توګه دنوماندانو حمایت کړي او په ۱۸۲مواردوکي نوماندانو په ناقانونه ډول له دولتي وسایلو څخه په کمپاین کي ګټه پورته کړي او په ۹۱ مواردوکي افغان امنیتی ځواکونوپه دولتی یونیفورم کی دځانګړونوماندانو په ټاکنیزه مبارزه کي برخه اخیستي ده.

هغه ۵ ولایتونه چی په ناقانونه توګه پکي ددولتي کارکونکو له نوماندانو څخه ملاتړکړي او دفیفا دڅارونکو ثبت کړي عبارت دی له : بغلان ۳۳هلمند۲۷بدخشان۲۴غزنی۲۳ اوتخارکی په ۲۰مواردو کی راپورورکړل شوی دی.

هغه ۵ ولایتونه چی دځانګړو نوماندانو په ګټه پکی له دولتی امکاناتو څخه کاراخیستل شوی دفیفا څارونکو ثبت کړي عبارت دی له : هلمند ۲۴ننګرهار۲۰غزنی۱۴کابل۱۱اولغمان کی په ۱۰ مواردو کی راپور ورکړل شوی دي.

دټاکنوقانون له سرغړوني څخه په دویمه کتګوری کي غالبا دښونځیومدیران ولسوالان او والیانوڅخه پیل شوی دی،دغه مقامات په ښکاره توګه دنوماندانو لپاره کمپاین کولواو دخپل دولتی مقام څخه په ګټی اخیستنی سره یې دولتی امکانات دنوماندانو په واک کي ورکول او دټیټی رتبی مامورین یې پدی مجبورول چی دده دخوښي نوماند ته رایه ورکړي. دفیفا دڅارونکو لخوا دغه ډول راپورونه ثبت شوی او ان تردی چی دولتی نقلیه وسایل دګټی اخیستنی په منظور دخپلی خوښی نوماندانو په واک کي ورکول او دولتی وسایل یې دخپلو پلویانو په مینځ کی ویشل او دټاکنیزی مبارزی ناستي یې هم په دولتی ودانیو کي ترسره کړي دي.

هغه ولایتونه چی په هغی په زیاته پیمانه په ناقانونه توګه امنیتی ځواکونو ګډون کړي اودفیفا دڅارونکو لخوا ثبت شوی عبارت دی له : هلمند۱۴ بغلان ۸ کابل ۸ غزنی۷زابل۶بدخشان ۵لغمان۵ اوتخارولایت کي په ۵مواردوکي راپورورکړل شوی دي.

هغه لوړرتبه پولیس چه په ښکاره ډول یې دځانګړو نوماندانو دساتني لپاره پولیسوته دنده ورکړي په داسی حال کي چه دنورو نوماندانولپاره هیڅ ډول امنیتی تدابیرپه پام کی ندی نیول شوی داډول کړني دیونوماندپه بل باندی برتری په ګوته کوي اوپه دی هکله یې راپورونه ثبت شوی .

**پایلي:**

دسرطان ۲نیټی څخه تر۲۵سنبلی پوری په زرګونو خلکو دټولنی دمختلفو طبقو څخه ښځو،ځوانانو،ښاریانواوکلیوال دبیلابیلو سیاسی مفکرو اونظریاتو خاوندانودولسی جرګی ۲۴۹چوکیو دګټلو په منظوردسیالی ډګرته رادانګلي دي.

زیاتره نوماندانو خپلي ټاکنیزی مبارزی دمحلی زورواکو او ددولت دمخالفو وسلوالودګواښوباوجود په سوله امیزه فضاکي ترسره کړي او په ودریدو سره یې خپله میړانه وښوده

د۱۳۸۹کال دولسی جرګی ټاکنو په ټاکنو کي ښکیلوارګانونوته ددی فرصت ورکړل چی محلی زورواکي او هغه کسان چی دناقانونه وسلوالوډلو سره تړاولری په ټاکنوکي دنوماندیدو له وروستي لیست څخه بیرون کړي خو متاسفانه چی پدی کارکي پاتی راغلل، یو تولګی لږ خلک چی زیات اغیزمن وو دټاکنیزی مبارزی پرځایی دګواښ او زور په توسط یی له رایی ورکونکو اونوماندانو څخه یی درایو په اخیستلو کي مخکیوالی کولو.

دټاکنو په پروسه کي په سلونو سرغړونی دشکایاتو دکمیسیون په بی پروایي شاهدی ورکوي،چه دغه کمیسیون دشکایاتو ته په رسیدوکي پاتی راغلی ا په زیاتره مواردوکي یی هغه نوماندانوته مجازات ورکړي چی جزی سرغړوني یی ترسره کړي دي،دټاکنو په ورځ سرغړونی او جعل کاری یو حتمی کاردي خو داړونده اداری اومتعاهدو مسوولو افرادو دهڅو او افرادو له کبله به یی اغیزی او اثرات کم وی په هغه صورت کي چی په شفافه توګه دخپل تعهدبرابرعمل وکړي.

دټاکنو له ورځی وروسته عادلانه مسوولیت اوپه سوله آمیزه توګه دټاکنودبیهردپایلو مسوولیت ترډیره حده دشکایاتو دکمیسیون په غاړه دي .دټاکنو دشکایاتو کمیسیون دسرغړونکو پرخلاف شوی شکایاتونه باید په جدی توګه وڅیړی او پدی هکله دی خپل غوڅ دریځ خپل کړي ،دشکایاتو کمیسیون دی دټاکنودبهیرپه اړه ټول معلومات اوشکایتونه بی پری او په فعاله توګه دټاکنو دڅارونکو ارګانونو سره شریک کړي.

په میلونوافغانان په پوره میړانې سره دسنبلی دمیاشتي په ۲۷نیټه درایې ورکولو مرکزونو ته ولاړل ، هغه امنیتی ارګانونه چی دټاکنو په ورځ یې درایې ورکونکو امینت ساتنه کوله پکارده چی دټاکنو له ورځی څخه په وروسته اونیو کي همدغسي جراتمندانه اوسي.


دټاکنو په اړه امنیتی پیښی:
د سرطان له ۲۴نیټی ځخه ترسنبلی ۳پوری
درایی
ورکوونکوسره
تاوتریخوالی
%5
پرنوماندانو او دهغوی
داستازپرخلاف
تاوتریخوالی
%19
نوماندانو اودهغوی
استازوته گواښ
%50
ځارونکوته گواښ
%4
تهدیدات رأی دهندگان و
مردم عامه
%18
ټولی پیښي:۲۵۷
دټاکنیزی مبارزی
استازی او دولتی
کارکونکوپرخلاف
گواښونه
%4